afghanistan
justice
archive

DEC3.05.26.2025-A

Supreme Court ستره محکمه
29 May 2025 ·

په کونړ ولایت کې (۱۶) کسانو ته تعز/یري سزا ورکړل شوه

د کونړ ولایت مرافعه محکمې د پرېکړې له مخې دوو کسانو ته د لواطت او غلا په تور او څوارلسو کسانو ته د نشه يي توکو د استعمال، بې حرمتۍ، نامشروع اړيکو او اخلاقي فساد په جرمونو؛ په ۲۸/ ۱۱/ ۱۴۴۶ هـ ق نېټه تعز/يري سزا ورکړل شوه.
مرافعه محکمې ياد مجرمين او متهمين پر يو ـ يو کال او شپږ ـ شپږ مياشتې تنفيذي بند او له ۱۰ څخه تر ۳۹ دُرو پر تعزيري سزا محکوم کړي وو؛ چې ياده پرېکړه د سترې محکمې عالي مقام له تائيد وروسته پر يادو کسانو تطبيق شوه.
د تعز/يري سزا د تطبيق په موخه د مرافعه محکمې سرپرست رئيس محترم مولوي لعل محمد (صديقي) په مشرۍ غونډه جوړه شوه.
غونډه د قرآن عظيم الشان د څو مبارکو آياتونو په تلاوت پيل شوه؛ ورپسې د کونړ ولايت مرستيال والي محترم مولوي عبدالله (حقاني) د اسلا/مي شر/يعت په رڼا کې د حدو/دو او تعز/يراتو په اهميت خبرې وکړې وويل، دا څو کاله جهادي مبارزه په همدې خاطر وه چې اسلامي شريعت حاکم شي، ځکه چې اسلامي شريعت د عقل، مال، نفس او نسب په ساتنه ټينګار کوي او د يادو شيانو تحفظ په حدو/دو او تعز/يراتو کېږي.
دغه راز د ښاري ابتدائيه محکمې سرپرست محترم مولوي رحمت الله (مخلص) هم د حدو/دو او تعز/يراتو په اهميت تفصيلي خبرې وکړې.
غونډه د ياد ولايت د سيد جمال الدين افغاني پوهنتون رئيس مولوي عبدالمالک (محسن) لخوا د دعا په لوستلو پای ته ورسېده.

